


## استاد عبدالروف بینوا:

استاد بینوا د هېواد، سیمې او نړۍ په کچه ستر لیکوال، سیاست پوه او د پښتو معاصرو ادبیاتو له پنځو ځلیدونکو ستورو څخه دی. نوموړی پېژندل شوی، نامتو، ټولنیز او ملي شخصیت، نوښتګر ادیب، مخکښ شاعر، تاریخپوه، څېړونکی، تکړه ژباونکی، مورخ، کره کتونکی، او اروا پوه وو. ده په خپلو ګټورو او اغېزناکو منظومو او منثورو نښیرونو(اثارو) کې علمي، تاریخي، ادبي، هنري، طنزي، ښوونیز او روزنیز سکالو او موضاعات او پیغامونه په ډېر ښکلي او ظریفانه بڼه داسې انځور کړې دي، چې لیدونکي او لوستونکي په ډېر خوند سره ترینه اغېزناکه ګټه پورته کوي. استاد عبدالروف بینوا د «مفتي عبدالله» زوی، د «ملا عبدالحق علیزي» لمسی پر (۱۹۱۳ع= ۱۲۹۲ل) کال د کندهار ښار خرقې شریفې ته نېږدې د «سید حسبن» کوڅه کې زېږېدلی دی. لومړنۍ زده کړې یې په خپله کورنۍ کې وکړې او دودیز علوم یې ولوستل. استاد بینوا هغه لوی شاعر او لیکوال دی چې په خپلو شعري او نثري ځلاندو وړانګو یې زموږ د کلتور او ادب ډیوه تل روښانه او ځلانده ساتلې ده. استاد بینوا د خپل ژوند په اوږدو کې ډېر ګټور، اغېزناک او با ارزښته منظوم او منثور نشیرونه(اثار) او همداسې یې په پښتو او دري ژبو ډرامې او نندارې هم کښلې دي، چې په خپل وخت کې تمثیل شوې هم دي. استاد بینوا نه یوازې د پښتو ژبې ستر څېړونکی، محقق او شاعر وه بلکې د دري- فارسي ژبې پوخ لیکوال هم ګڼل کیده. ده په دري-پارسي ژبه هم ډېر ښکلي نشیرونه(اثار) لیکلي دي. استاد بینوا په پښتو، دري-فارسي او عربي ژبو نه یوازې چې په روانه توګه خبرې کولۍ خو په دغو ژبو یې ډېر ګټور نښیرونه (اثار) هم لیکلي دي او ډېر با ارزښته نښیرونه (اثار) یې په دغو ژبو ژباړلي هم دي. همداسې د استاد بینوا ګڼ شمېر شعرونه په عربي، روسي، انګریزي او چکوسلواکیایي ژبو هم ژباړل شوې دي. استاد بینوا د خپل ژوند په اوږدو کې (۴۳) کاله په څېړنې او تحقیق بوخت وو، په دریو (پشتو، دري-پارسي او عربي)ژبو یې (۵۵) کتابونه او

رسالې کښلې دي. په ادبپوهنه کې یې بنسټیز کارونه تر سره کړې دي. تدریسي او گرامري کتابونه یې هم لیکلې دي. همداسې یې د هېواد نوموتي لیکوال راپېژندلې دي. دی هغه ملي او نامتو شخصیت دی چې د پښتنې شفاهي ادب ځینې ډولونه لکه لنډۍ، او متلونه یې په نورو ژبو هم ژباړلې دي او د نورو ژبو ویونکو ته یې د خپل پښتني فولکلور په ورپېژندلو کې رغنده او فعاله برخه درلوده. د استاد بېنوا ادبي او معنوي میراث هغه علمي او ادبي پانگه ده، چې زموږ د هېواد د معاصرو او راتلونکو نسلونو لپاره د روښانه او ځلانده مشال په توگه د خورا ستاینې او درنښت وړ دي. استاد بینوا د پراخ لید، ملي اندو فکر خاوند شخصیت وو، پر پلورالیزم او دموکراسی یې باور درلود او د سیاسي اندونو او افکار له لیده له هغو اندونو او افکارو سره چې زموږ د ولس د عنعناتو، دود و دستور او باورونو سره یې سمون نه درلود مخالف وو. دی په دې گروهه او عقیده وو چې د هېواد او هېوادوالو وده او پرمختگ، هوسا، سوکاله او له خوندیتوبه ډک ژوند یوازې د هېوادوالو پر اتحاد، اتفاق، ملي وحدت او د پخلاینې پر بنسټ ولاړ دی. استاد عبدالروف بېنوا د خپل عمر دېرش کاله یې په رسمي چارو کي تېر کړې دي او په بېلابېلو رسمي برخو کې یې خپلې دندې په ډېر مینه او اخلاص سره تر سره کړې دي. استاد بینوا له خپلو همکارانو، دوستانو، یارانو او هېواد والو سره ژوره مینه درلوده. دی ډېر خواخوږی، بې کبره او متواضع شخصیت وو او په ډېره خوږه او پسته ژبه غږېدو او له خپلو همکارانو او ملگرو سره یې ډېرې ښې اړیکې درلودۍ. استاد عبدلروف بینوا د جدي میاشت په (۱۴)مه، پر (۱۳٦۳)ش،هـ کال= د جنوري میاشتې په(۴)مه، پر (۱۹۸۵)ز کال د «امریکا په نیوجرسي ایالت» کې مړ شوی دی. دی د پردي هېواد د پردېسانو په مړستون(هدیره) کې خاورو ته وسپارل شو. او دا وصیت کړې وو، چې گوندې پښتانه زلمیان به د ده هډونه په مناست وخت کې خپلې پاکې خاورې ته ورسوي.

**دا هم د استاد عبدالروف بینوا مهمې او گټورې خبرې او ویناوې:**

- افسوس دې د هغه چا پر حال وي چې کال نوی شي، خو د ده ژوند زوړ وي یا نوی کال د نوي ژوند، نوې آرزوگانې راوړي خو د ده زړې آرزوگانې لا هم تر سره شوې نه وي.

- یو گل چې هر څومره ډېر رنگونه ولري ښکلا یې هم هغومره زیاته وي او چې څومره مخونه ولري، هغومره د ستاینې وړ وي، خو یو انسان که دوه رنگی شو، یا یې ځان دوه مخی وښود، نور یې مخ د کتو نه وي.

- د ځینو رازونو پټول نه یوازې د یو بدبخته انسان پر کمزورۍ دلالت کوي، بلکې د هغه بدبختي لازیاتوي.

- د نویو لارو آغاز د زړو لارو له انجامه شروع کېږي او د زړو لارو تجربې او زده کړې د نویو لارو په جوړولو کې مرسته کوي.

- ځینې وگړي د دې لپاره تر ځان له ښوزل سره ملگري را اخلي چې خپل غرور، جلال او نخوت د ملگرۍ په رنگ کې نورو ته وښیي.

- کار د ژوند نښه ده او د ژوند بنسټ پر کار ولاړ دی.

- د کار تر شروع د مخه، د کار امکانات سنجول، د کار په سر کې د کار پای ته کتل، د کار موانع او مشکلات په پام کې نیول او خپل توان لیدل، هغه ضروري خبرې دي چې د کار خاوند د هوس او تظاهر له لارې راګرځوي. کوم کار چې  د هوس او تظاهر له مخې شروع کېږي هغه به ضرور نیمګړی وي او هغه کار چې نیمګړی پاتې او سر ته نه رسېږي، ښه دا ده چې شروع نه شي.

- څنګه چې په پټو سترګو له پټې دنیا څخه دې دنیا ته راغلي یو، همداسې به په پټو سترګو او پټه خوله دا نیمګړی ژوند پرېږدو.

- اوسنی نړۍ یوازې ویلو ته اړتیا نه لري، بلکې کول هم غواړي.

- د ژوند لار هغه څوک ټاکي چې ژوند ولري. لومړی تاسې ژوند پیدا کړئ بیا لار ورته ولټوئ.

- که کوم دوست خپله وعده پر ځای نه کړه او په و عده کې یې تېر ایستلو، بې وفا او بدقوله یې ګڼو. که د غوړه مال په غوړه ژبه وغولېدو، ټګمار او فرېبکار یې بولو. که دوکاندار سودا لږ راکړه او پیسې یې تر خپل حق زیاتې راڅخه واخیستې نو د سپینې ورځې غل یې ګڼو. خو زه او ته چې هره ورځ په خپله ځانونه غولوو پر دې کوم نوم ږدې!؟

- که زه تېروتی وم، ته مې لارښوونه وکړه او که ستا څخه لاره ورکه وه زه به دې لاس ونیسم او که فرضن دواړه بې لارې وو، نو د لارښوونکي په لټون او څرک پسې به هڅه وکړو.

- یو انسان که هر څومره پوه، هوښیار، عالم، او مدبر وي، بیا هم د نورو مشورې او مرستې ته اړ دی او په یوازې سر ټول کارونه نه شي کولی.

- د پوهې رڼا ډېره لرې نه ده خو چې زه او ته ځانونه ورځنې لرې ونه ساتو.

- نه هغسې مشر، چې بې خپله ځانه او بې خپلې ګټې، نور هېڅوک او هېڅ شی نهویني. هر څه دی او هر څه د ده وي. کشران یې ړانده، کاڼه، ګونګیان، بې حسه روزلي او ناپوه یې ساتلي وي. او نه داسې کشر، چې په وچه ځمکه لامبو وهي او تر اوبو د مخه ګاولې باسي، تر پښو لاندې یې ځمکې ته پام نه وي، خو په اسمان کې مصنوعي سپوږمۍ لټوي.

***

**په درنښت او ادبي مینه: انجنیر عبدالقادر مسعود**